مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۱/۲۰

# محمد جانان اخندزاده فدوي

## دوهمه برخه




**دا لیکنه ما د جانان فدوي دیوان له پاره د سریزي په توګه دوه کاله پخوا کښلې وه. دغه دیوان ما د څلورو خطي نسخو او یو لړ چاپي آثارو له مخي ترتیب کړی او لومړی ټوک مي د چاپ له پاره ښاغلي حمدالله صحاف ته لیږلی وو چي په دې شپو ورځو کي چاپ سو.**

**د دې لیکني په خپرېدو کي مي مراد دوه ټکي دي:**

**یو دا چي د جانان فدوي دیوان د ترتیب او تکمیل او خپرېدو په خپل کار باندي درانه لوستونکي خبر کاندم او دوهم دا چي په ژوند باور نسته، ښه دئ چي د جانان فدوي پر ژوند باندي زما له کار او زیار څخه به تر خپرولو وروسته د راتلونکو څېړنو پر وخت که لازمه وه، استفاده وسي.**

**(م.هوتک)**

د جانان اخندزاده فدوي د پښتو دیوان د هغي نسخي په ۲۹۷ ــ ۲۹۹ مخونو کي چي ما د اصل په توګه ټاکلې ده، د حافظ غلام علیخان له طبع څخه د نقشبندیه طریقې منظومه شجره په فارسي ژبه سته او تر هغه وروسته ئې د حاجي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څېر و لولئ

دوست محمد قندهاري او د هغه د مرشد شاه احمد سعيد (رح) په باب معلومات ليکلي دي چي لنده ژباړه به ئي دلته رانقل کړم:

"حضرت شاه احمد سعيد صاحب دهلوي... په مدينه منوره کي د خپلي استوګني په دوهم کال د ربيع الاول پر دوهمه وفات او د حضرت عثمان ذی النورين د مزار څنګ ته ښخ سو... ددوی له خليفه ګانو څخه ... حاجي دوست محمد صاحب دئ چي په خراسان او هندوستان کي په حاجي صاحب سره مشهور دئ... حضرت شاه احمد سعيد صاحب قدس سره چي بيت الله شريف ته رهي کېدی ... په موسی زی شريف کي ئي د حضرت حاجي صاحب خانقاه تشريف راووړ. هوري ئي د خدای په امانی پر وخت حاجي صاحب ته وفرمايل چي تاسي به په هند او خراسان کي زموږ حضراتو خليفه او جانشين ياستئ... حاجي صاحب ورته وويل چي دا ستر عنايت به زما تر لياقت لوړ وي. زه ئي لايق نه يم. عاليجناب ورته وفرمايل " ته ئي لايق وي، لايق يي او لايق به اوسي. پر تا دي مبارک وي". حاجي صاحب ته به ئي له مديني منورې څخه هر وخت ليکونه رالېږل..."

د کلات په غونډان کي د حاجي دوست محمد قندهاري په لاس د نقشبنديه خانقاه تر جوړولو پخوا ددغي سيمي اولسونه د کندهار د ذاکر شريف د ميا عبدالحميد هوتک (رح) او د هغه د کورنی دروړيان ول. سيمي ته د حاجي دوست محمد قندهاري راتګ ددغو دوو روحاني مرکزو تر منځ رقابت راوزېږاوه. په دغه وخت کي دذاکر له حضراتوڅخه د ميا عبدالحميد صاحب لمسی ميانور محمد صاحب دارشادپرمسندناست وو.د ذاکر د حضراتو ځيني خليفه ګان د حاجي دوست محمد قندهاري خانقاه ته جذب سول. په مکتوبات حاجي دوست محمد (صـ ۶۰) کي د ملا خان محمد اخوندزاده په باب راغلي دي چي "... فقيه جيد اول از خليفۀ که از مشايخ ذاکريان بوده اخذ طريقه کرده چون بر تاثيرات وقوف نيافته رجوع به فقير آورد و بيعت نموده..."

د ذاکر حضراتو محمديار صاحبزاده آتش نفس (۷) په غونډانوکي دشيخ دوست محمداوپيروانود مقابلي دپاره مقررکړ. دحاجي دوست محمديه خليفه ګانو کي زموږ تر بحث لاندي شاعر جانان اخندزاده فدوي اوحبيب الله اخندزاده توخی د محمديار صاحبزاده مقابلي ته ودرېدل. علامه رشاد کښلي دي چي " په مقامات احمديه کي ددغه مخالفتو يادونه راغلي ده" او ورپسي زياتوي چي دحاجي دوست محمد کندهاري اود ذاکر د مشايخو د پيروانوترمنځ تر ۱۲۷۲ ق کال دمخه يوه مناظره دميرعلم خان هوتک (۸) په کلاکي سوې ده. په دغه مناظره کي دحاجي دوست محمدله خوا مولوي عادل کاکړ (۹) او جانان اخندزاده هوتک اوملاجبارناصراوذاکرد مشايخوله خوا د ميادوست محمد زوی اودمياعبدالحميدصاحب لمسی نورمحمد صاحبزاده خليفه ،نورمحمداخندزاده هوتک برخه اخيستي وه. دغه مناظره په خوشالی سره پای ته رسېدلي وه.

د حاجي دوست محمد او د ذاکرشريف دحضراتو ترمنځ رقابت ته پخپله حاجي دوست محمدکندهاری په يوه مکتوب کي چي خپل مرشد او پير حضرت شاه احمدسعيد صاحب مجددي دهلوي ته ئي ليکلی دئ، اشاره لري او وايي چي دذاکريانو د"عناد" سبب دادئ چي دحاجي ملا بازمحمد، مولوي محمدجانان اخوندزاده او مولوي محمدګل اخوند زاده (۱۰) په شان مهم اشخاص دده په حلقه کي شامل سوي دي.دی دحاجي ملا بازمحمد صاحب (۱۱) ديادوني په ترڅ کي وايي :" ... سبب عناد مشائخ ذاکريان باين فقيربحسب ظاهر اوست ومولوی محمدجانان آخوندزاده ومولوی محمدګل آخوندزاده .." (۱۲)

د ارشاد و تلقين دي دوو مرکزو په سيمه کي له ځينو مخالفتو سره سره بياهم ښه اړيکي درلودل او ډېر خلک ددوی دواړو د ارشاد له فيضه مستفيد سوي دي.

## د جانان اخندزاده فدوي پر پښتو ديوان باندي زما د کار روش:

څوکاله پخوا ما ښاغلي مطيع الله روهيال ته د جانان اخندزاده فدوي د ديوان د ترتيبولو سپارښتنه وکړه. ده د افغانستان د ملي آرشيف نسخي تر لاسه کړي خو زما له خوا د څو پلا يادونو سره سره ئي ددي مجال ونه موند چي دغه درونددکار بشپړ کاندي. ښاغلي حمدالله صحاف به ما او روهيال دواړو ته ددغه ديوان د ترتيبولو مکرري سپارښتني کولي. سږکال ( ۲۰۱۸ ع) ئي له کابله راته په تيلفون کي ددغه کار د بشپړولو خبره په داسي ټينګار سره وکړه چي ما ته ئي د (نه) جواب ورکولو مجال پرېنښود. د افغانستان د ملي آرشيف د دوو نسخو او د علومو اکادمی د يوې نسخي کاپی ئي کاناډا ته را واستولي. ما هم شپه و ورځ کار پر وکړ او دادئ دغه ضخيم ديوان د چاپ له پاره تيار سو. ددي ديوان يوه بله خطي نسخه هم په علومو اکادمی کي سته او په شخصي کتابتونو کي ئي هم د ځينو نسخو يادوني سوي دي. لازمه خو داوه چي د ديوان د ترتيب پر وخت بايد له دې ټولو نسخو څخه استفاده سوې وای. خو ماچي ننيو حالاتو او بوختياوو ته وکتل نو مي له دې داره چي ددغه ديوان پر خپرېدو به بيا څو نور کلونه واوړي،غوره وبلله چي يو وار به ديوان د همدې مُيسّرو څلورو خطي نسخو او نور چاپي کلام له مخي ترتيب او خپور کړو. په نورو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

چاپونو کي که دغه نسخي تر لاسه سوي، هغه وخت به زه ( که د ژوند پر مېنه وم) يا بل څوک لازم اضافات پر زيات کړي.

لکه وچي مي ويل،ددي دېوان د ترتيب پر وخت ماته څلور خطي نسخي، په سره غره ګلونه نومي مجموعه کي د فدوي کلام او په پښتانه شعراء دريم ټوک کي دده د کلام ځيني نموني پرتي وې.

**اوله خطي نسخه:**

دا خطي نسخه چي کاپي ئې ښاغلي حمدالله صحاف په کندهار کي راکړه ( نومبر ۲۰۱۳ع)، د جانام فدوي پخپل خط ليکل سوي ده او د کلات په سيوري کي د خاص بدين د کلي ملامحمد اکرم هوتک په کتابتون کي خوندي وه. ښاغلو حبيب الله رفيع او زلمي هيوادمل چي په ۱۳۵۵ش کال سيوري ته سفر وکړ، دا نسخه هوري ښاغلي هيوادمل ته د اصلي څښتن د ورور شيرواري خان هوتک له خوا ورکړه سوې وه. د افغانستان په وروستيو جنګ جګړو او چور و تالان کي نسخه تر کوټي بلوچستان پوري رسېدلې او هوري ښاغلي صحاف له کوم چا څخه په بيه اخيستي وه.

دا نسخه د جانان فدوي په خپل لاس ليکل سوي ده. ليک ئې نسبتاً ښکلی نسخ دئ. ځای ځای فارسي نظمونه لري چي په نستعليق ليک کښل سوي. نسخه په توره سياهي ليکل سوي ده او د شاعر نوم په سره رنګ دئ [۱۳].د نسخي په سر کي متفرقي غزلي او يادښتونه سته خو اصل دېوان له اوولسم مخ څخه شروع کېږي . د مخونوشمېر ئې ۳۴۲ دئ چي په دې شمېر کي د سر او پای اضافي پاڼي هم شاملي دي. دېوان مردف دئ. منظم رکابونه لري خو وروسته د بل چا په قلم د پاڼو پر تندي د هر مخ عدد هم ليکل سوی دئ. د دېوان شروع په دې بيت ده:

امکان ټـول ده په تحـمید و په ثنا
یا په قال و یا په حال ســـره ګويا

پای ئې تر الفنامو وروسته متفرقي غزلي لري چي وروستی بيت ئې دادئ:

د حيرت آئينه ونيسه له مـــــــــخه
فـدوي ګوره د تـقدير د کار سلوک

د نسخي د ليکلو نېټه نسته خو د پای له خواپر څلرم مخ ئې د نسخي څښتن خپل يادښت کښلی دئ چي نېټه لري او په دې ډول دئ:

"اين کتاب فدوی از تصنيفات مولانا ملا جانان اخندزاده صاحب در ملک و تصرف حقير ملا محمد اکرم قوم هوتکی سکنه محال سيوری خاص قريه بدين. تحرير ۱۲ رمضان المبارک سنه ۱۳۱۰ هجری صلی الله عليه وسلم" [۱۴].

له ۲۹۳ مخ څخه تر ۲۹۹ مخ پوري په فارسي ژبه د نقشبنديه طريقي منظومه شجره سته چي ناظم ئې " حافظ غلام عليخان" ښوول سوی دئ. تر شجري وروسته يوه فارسي - اردو غزل ده چي فدوي ويلي ده. ورپسې په نثر کي" تاريخ وفات و رحلت شاه احمد سعيد صاحب دهلوی" او د هغه د خليفه حاجی دوست محمد قندهاری پېژندنه راغلي ده.

**د دوهمي برخي لمنليکونه:**

۷ـ محمد يار صاحبزاده مشهور په آتش نفس د محمد امين زوی او د خالقداد لمسی د کندهار له مشاهيرو څخه وو. نوموړی د متداوله علومو عالم او د نقشبنديه طريقي پيرو وو. په پښتو ژبه ئي شعر وايه.د امير عبدالرحمن خان ( ۱۲۹۷ـ ۱۳۱۹هـ ق) د پاچهي تر اواخرو پوري لا ژوندی وو.
۸ـ ميرعلم خان هوتک دعبدالرحيم خان زوی دنورالله خان لمسی اودحاجي انګونيکه کړوسی
وو. حاجي انګو(حاجي نورمحمدخان) ديحيی خان زوی اودملي قايدحاجي ميرويس خان هوتک وراره وو(وګ دخ پلواکی لمرخرک د ۳ مخ شجره ددانش چاپ)
۹ـ مولوي محمدعادل کاکړ دفيض محمدزوی او دږوب اوسېدونکی وو. د"ملفوظات حاجي دوست محمد" په نامه په پارسي ژبه يوتاليف لري علامه رشادوايي چي يوه خطي نسخه ئي دافغانستان په ملي آرشيف کي خوندي ده (وګ : پښتانه مصنفين ، ۲۲۲ مخ ناچاپ )



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مولوي محمد عادل کاکړ د ( تحفة الاسلام) په نامه یو پښتو منظوم اثر هم لري چي خطي نسخه ئې ما د ښاغلي حمدالله صحاف په کلکسیون کي په ۱۹۹۱ع کال په کوټه کي وکتله او دري کاله وروسته مي یوه لیکنه هم پر وکړه او ( وفا) جریدې ته مي د خپرېدو له پاره ولېږله. په خپرېدو ئې حال نه لرم خو لیکنه ۱۳۸۹ ش = ۲۰۱۰ع کال زما په یوه چاپي کتاب (کچکول ـ لومړی ټوک ـ ۸۵ مخ )کي خوندي ده .دغه راز زما په سایټ کي د آنلاین آثارو په برخه کي هم دا څو کاله کېږي چي پرته ده.

۱۰ـ مولوي محمدګل اخوندزاده دملاشاهواخوند هوتک له لمسیانوڅخه وواو پر خراسان (کلات) باندي دمیرعالم خا ن دحکومت په وخت کي ئي دقضا وظیفه پر غاړه وه..( وګ : مکتوبات حضرت حاجی دوست محمدقندهاری ص ۲۲)

۱۱ـ ملاباز محمدصاحب دکندهاردارغسان اوسېدونکی اوپه قوم بختیار وو.(وګ: هماغه مکتوبات ۱۰ مخ)

۱۲ـ وګ : مکتوبات )فارسی( حضرت حاجی دوست محمدقندهاری قدس سرّه مکتوب بیست ویکم ص ۱۰ چاپ ملتان (دعلامه رشاددد کتابتون نسخه)

۱۳ـ د سره رنګ خبره ز د ښاغلي هیوادمل صاحب له خولي کوم چي په ( دسره غره ګلونه) نومي کتاب ۱۵۰ مخ کي کښلي ده (م . هـ)

۱۴ـ دغه کال په قمري حساب د امیر عبدالرحمن خان ( ضیاء الملة والدین) د پاچهی دیارلسم کال دئ.( م . هـ)

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ